ژباړه: محمد فهیم نوري

# د مأموریت د رئیس لپاره څرنګه غوښتنه وکړو
# د افغانانو لپاره د ځانګړو مهاجرتي ویزو پروګرام
# د امریکا د متحده ایالتونو سفارت - کابل، افغانستان

## اړینې لارښوونې

د مأموریت د رئیس (COM) د تأیید د غوښتنې لپاره د مهاجرتي ځانګړو ویزو (SIV) په موخه ، تاسو باید برښنالیک ته لاسرسی ولرئ؛ د سکن او ټولو هغه اړینو اسنادو چې په لیست کې دي د PDF فایل په توګه د ثبتولو وړتیا ولرئ؛ او وکولی شئ چې ټول اسناد د برښنالیک له لیارې یې وسپارئ.

وروسته تر هغه چې تاسو ټول هغه اړین اسناد چې لاندې ذکر شویدي جمع کړل، د یو برښنالیک سره یې مل (ضمیمه) کړئ او AfghanSIVApplication@state.gov ته یې ولیږئ. د برښنالیک د عنوان[1] موضوع باید د اصلي غوښتونکي[2] د نوم درلودونکې وي څرنګه چې په پاسپورت او تذکرې کې لیکل شوی وی، او علاوه بر دې د غوښتونکي د زېږدېدنې نېټه په لاندې فارمټ کې وي: DAY-MONTH-YEAR

خپل د کورنۍ د غړو مالومات د خپل برښنالیک په عنوان کې مه داخلوئ.

موږ ټول ارتباطات او دستور العملونه چې د همدې برنامې اړوند دي تاسو ته د برښنالیک له لیارې به درولیږو.
زموږ سره د مکاتبې لپاره په ټولو مراحلو کې سپارښتنه کوو چې د یو برښنالیک څخه استفاده وکړئ.

## اړین اسناد

غوښتونکي باید لاندې (٦) موارد د خپل سند په کڅوړه کې راولیږي. *هیله کوو له هغه څه څخه چې لاندې ذکر شویدي بل څه مه رالیږئ، مګر دا چې ستاسو څخه وغواړو نو هغه کار ترسره کړئ.* په ځانګړې توګه، عکسونه، ستاینلیکونه، د زده کړو لیکونه، لنډې سوانح او تحصیلي ټرانسکرېپټونه. دغه اسناد ستاسو د (COM) د غوښتنې په تأیید کې هیڅ تأثیر نلري او تر کتنې لاندې نه نیول کیږي.

د ټولو اړینو اسنادو نه وړاندې کول دقیقاً د لاندې غوښتنې سره سم ممکن دي او شاید د (COM) لپاره ستاسو د غوښتنې د تأیید بررسي په څرګند ډول وځنډوي. پداسې حال کې چې دغه د اړینو اسنادو لیست ټول غوښتونکي مشخصوي، موږ ممکن د پروسې په جریان چې کومې پوښتنې راپیدا کیږي [illegible] غوښتنه وکړ[illegible].

### 1. په افغانستان کې د استخدام تأیید

### الف) که چیرې د متحده ایالتونو د حکومت او یا د هغوی لخوا استخدام شوي یی:

تاسو باید خپل د کارفرما د بشري سرچینو (HR) څخه یو لیک وړاندې کړئ چې تأیید کړي چې تاسو لږ تر لږه دوه کاله د ۲۰۰۱ د اکتوبر د ۳۱ څخه تر ۲۰۲۲ د ډسمبر تر ۳۱ په منځ کې د امریکا د متحده ایالتونو لخوا په افغانستان کې استخدام شوي یی او یا د هغو لخوا کار کوئ.

دا لیک باید د لاندې ټولو مالوماتو درلودونکې وي:

- ستاسو بشپړ نوم

---

[1] Email Subject

[2] Applicant

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ستاسو د زېږیدنې نېټه
- د موجودیت په صورت کې، د متحده ایالتونو د قرارداد یا فرعي قرارداد چې ستاسو د کارفرما په اختیار کې دی اړوند اطلاعات. دا باید د پروژې د نوم، د قرارداد د شمېرې، د قرارداد د اجرأ د دورې او د اصلي قرارداد کوونکي د نوم درلودونکي وي. او که چیرې موجود وي، ستاسو د کارفرما او د متحده ایالتونو د دولت ترمنځ د قرارداد یوه کاپي او یا ستاسو د کارفرما د فرعي قرارداد او هغه شرکت چې د متحده ایالتونو سره خپل قرارداد ساتي یوه کاپي باید تاسو وړاندې کړئ.
- ستاسو د دندې عنوان
- ستاسو د دندې موقعیت (ځای)
- د کارفرما لپاره د کار د پیل نېټه (DD-MM-YY)
- د کارفرما لپاره د کار د ختم نېټه (DD-MM-YY)
- د جلاوالي دلیل که نور شاغل[3] نه یې
- د لیک د تکمیل کوونکي نوم، دده یا ددې لاسلیک، یا دده یا ددې د اړیکې مالومات، د شرکت برښنالیک (یا بل برښنالیک د سازمان سره د نه همکارۍ په صورت کې)
- د خپل کاري دندو او هغه ځای چې تاسو هلته هغه دندې ترسره کړې بشپړه تشریح. که چیرې موجوده وي، دا باید د توضیح درلودونکي وي چې څنګه دغه موقعیت تاسو ددغه کار په ترسره کولو سره ملزم کړی:
  - که په افغانستان کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د پرسونل او د متحده ایالتونو د نړیوال پراختیایي آژانس لپاره د ژباړونکي یا ترجمان په توګه خدمت وکړئ، په ځانګړې توګه که د داسې دندو درلودونکي وي چې د دا ډول پرسونل سره د سفارت څخه لیرې سفر وکړئ.
  - که په افغانستان کې د امریکا د پوځ د پرسونل لپاره د ژباړونکي یا ترجمان په توګه خدمت وکړئ، مخصوصاً که چیرې دا کار د قرارګاه څخه د باندې مسافرت ته اړتیا لري. یا

### ب) که چیرې تاسو د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ISAF) یا د هغوی د ځایناستي مأموریت له لوري استخدام شوي یاست:

تاسو باید د خپل کارفرما له لوري یو لیک وړاندې کړئ چې تأیید کړي چې تاسو د ISAF یا یو ځایناستي مأموریت له لوري د ۲۰۰۱ د اکتوبر د ۳۱ څخه تر ۲۰۲۰ د ډسمبر تر ۳۱ په منځ کې لږ تر لږه د دوو کالو د مودې لپاره استخدام شوي وئ. او که چیرې په سیده توګه د ISAF یا یو ځایناستي مأموریت له لوري استخدام شوي یاست، دا لیک باید د ISAF د مرکزي دفتر د HR، یا د ځایناستي مأموریت د HR څخه وي، صرف نظر دېته چې په افغانستان کې استوګن شوي یاست. که چیرې د ISAF د غړي هېواد له لوري یا د یوه غړي ځایناستي مأموریت له لوري استخدام شوي یاست دا لیک باید ستاسو د استخدام د دفتر یا آژانس له لوري وي. **یادابنت:** *خصوصي قراردادیان او فرعي قراردادیان د ISAF یا ځایناستي مأموریت یا غړي هېوادونه بې غیر د متحده ایالتونو څخه پر شرایطو برابر ندي.*

دا لیک باید د لاندې ټولو مالوماتو درلودونکي وي:

- ستاسو بشپړ نوم
- ستاسو د زېږیدنې نېټه

---

[3] د شغل درلودونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ستا او ستاسو د کارفرما تر منځ د قرارداد یوه انګلیسي (چې په انګلیسي ترجمه شوي وي) کاپي
- که چیرې تاسو د شخصي خدمتونو د توافق (PSA) یا د شخصي خدمتونو د قرارداد (PSC) له لوري استخدام شوي یاست، تاسو باید د توافق او قرارداد یوه د انګلیسي ژبې کاپي وړاندې کړئ.
- ستاسو د دندې عنوان
- ستاسو د دندې موقعیت (ځای)
- د ISAF یا ځایناستي مأموریت لپاره د کار د پیل نېټه (DD-MM-YY)
- د ISAF یا ځایناستي مأموریت لپاره د کار د ختم نېټه (DD-MM-YY)
- د جلاوالي دلیل که نور شاغل[4] نه یې
- د بشري سرچینو د استازي نوم چې د HR لیک تکمیلوي دده لاسلیک او د اړیکي مالومات، د هغې له جملې څخه د شرکت برښنالیک (یا بل برښنالیک د سازمان سره د نه همکارۍ په صورت کې)
- ستاسو د کاري دندو شرحه. که چیرې موجوده وي، دا باید د توضیح درلودونکي وي چې څنګه دغه موقعیت تاسو ددغه کار په ترسره کولو سره ملزم کړی:
  - د متحده ایالتونو د پرسونل لپاره د ژباړونکي یا ترجمان په توګه چې د ISAF یا ځایناستي مأموریت کې مستقر دي د قرارګاه څخه د باندې د مسافرت په وخت کې او یا.

## 2. سپارښتلیک

### الف) که چیرې د متحده ایالتونو د حکومت او یا د هغوی لخوا استخدام شوي یې:

تاسو باید د یوه مستقیم ناظر لیک چې د متحده ایالتونو اوسېدونکی وي او تاسو شخصاً وپیژني وړاندې کړئ. د نظارت دوره باید د استخدام د ذکر شوي دورې سره ستاسو د استخدام د لیک سره مطابقت ولري. دا لیک باید د نېټې درلودونکی وي او ستاسو د ناظر له لوري لاسلیک شي.

دا باید د لاندې اطلاعاتو درلودونکي وي:

- ستاسو بشپړ نوم
- ستاسو د زېږېدنې نېټه
- ستاسو د نبان شمېره (که موجوده وي)
- ستاسو د دندې عنوان
- ستاسو د دندې د کار ځای
- تأیید ددې چې ستایونکی (مشاور) ستاسو ناظر و/ دی او شخصاً تاسو پیژني
- د لیک د لیکونکي نېټه چې پر تاسو یې نظارت پیل کړیدی (DD/MM/YY)
- د لیک د لیکونکي نېټه چې پر تاسو یې نظارت پایته رسیدلی دی (DD/MM/YY)

---

[4] د شغل درلودونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ناظر نوم، عنوان، د شرکت نوم، د متحده ایالتونو حکومت/ نظامي برښنالیک یا شخصي برښنالیک
- د (COM) د تأیید لپاره ستاسو د سپارښتني توجیه[5]، یعني دا چې تاسو د متحده ایالتونو د حکومت لپاره صادقانه او ارزښتمند خدمتونه ترسره کړیدي
- د هر ډول جدي ګواښ په مقابل کې د ناظر توضیحات، چې تاسو د متحده ایالتونو له لوري یا د مغوی په استازیتوب د خپل استخدام په نتیجه کې تجربه کړي دي او یا تجربه کوی یې
- د ناظر نظر پدې هکله چې آیا تاسو د ملي امنیت یا د متحده ایالتونو د امنیت لپاره تهدید یاست
- ستاسو د کاري دندو څخه د ناظر تشریح. دا بیانیه باید د ځانګړو وظایفو په اساس چې ترسره کړي مو دي شخصي وي، د مغې له جملې څخه د هغه ځای شرح چې تاسو دغه وظایف په کې ترسره کړیدي. د لزوم په صورت کې، همدارنګه ستاسو ناظر باید ستاسو موقعیت چې څرنګه تاسو مستلزموي هم ذکر کړي:
  - که په افغانستان کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د پرسونل او د متحده ایالتونو د نړیوال پراختیایي آژانس لپاره د ژباړونکي یا ترجمان په توګه خدمت وکړئ، په ځانګړې توګه که د داسي دندو درلودونکي وي چې د دا ډول پرسونل سره د سفارت څخه لیري سفر وکړئ.
  - که په افغانستان کې د امریکا د پوځ د پرسونل لپاره د ژباړونکي یا ترجمان په توګه خدمت وکړئ، مخصوصاً که چیري دا کار د قرارګاه څخه د باندې مسافرت ته اړتیا لري. یا

که چیري د پورته سپارښتلیک ترلاسه کول د متحده ایالتونو د یوه اوسېدونکي ناظر له لوري چې تاسو هغه شخصاً پېژنی ممکن نه وي، نو تاسو باید یو سپارښتلیک چې د غیر امریکایي ناظر له لوري لاسلیک شوي وي او د متحده ایالتونو د اوسېدونکي په واسطه چې د قرارداد مسؤل دی، هم لاسلیک شوي وي وړاندي کړئ. د امریکا اوسېدونکی چې مشترکاً لاسلیک کوي باید وښیي، چې ستاسو د قرارداد یا فرعي قرارداد د ناظر سره د خپلې اړیکې په اساس، د وړاندي شوو اطلاعاتو د صحت څخه اطمینان لري. د امریکا اوسېدونکی چې لاسلیک کوي هم باید تأیید کړي چې تر هغه ځایه چې دده علم دی، تاسو د ملي امنیت او د متحده ایالتونو د امنیت لپاره هیڅ تهدید نه یاست. دا سپارښتلیک باید د امریکا د لاسلیک کوونکي اوسیدونکي د کار او شخصي برښنالیک درلودونکی وي تر څو د اړتیا په صورت کې دده سره اړیکه ونیول شي

### ب) که چیري تاسو د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ISAF) یا د مغوی د ځایناستي مأموریت له لوري استخدام شوي یاست:

تاسو باید د متحده ایالتونو د پوځ د یوه غړي چې پر تاسو یې شخصاً نظارت درلود یو لیک وړاندي کړئ. دا لیک باید د نېټې او لاسلیک لرونکی وي او د لاندو ټولو مالوماتو درلودونکی وي:

- ستاسو بشپړ نوم
- ستاسو د زېږېدني نېټه
- ستاسو د نښان شمېره (که موجوده وي)
- ستاسو د دندې عنوان
- ستاسو د دندې د کار ځای
- تأیید ددې چې ستایونکی (مشاور) ستاسو ناظر و/ دی او شخصاً تاسو پېژني

[5] یعني د کام د تأیید لپاره تاسو هغه د اثبات دلایل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د لیک د لیکونکي نېټه چې پر تاسو یې نظارت پیل کړیدی (DD/MM/YY)
- د لیک د لیکونکي نېټه چې پر تاسو یې نظارت پایته رسیدلی دی (DD/MM/YY)
- د ناظر نوم، عنوان، درجه، د متحده ایالتونو حکومت/ نظامي برښنالیک یا شخصي برښنالیک
- د (COM) د تأیید لپاره ستاسو د سپارښتنې توجیه[6]، یعني دا چې تاسو د متحده ایالتونو د حکومت لپاره صادقانه او ارزښتمند خدمتونه ترسره کړیدي
- د هر ډول جدي ګواښ په مقابل کې د ناظر توضیحات، چې تاسو د ISAF یا ځایناستي مأموریت له لوري د خپل استخدام په نتیجه کې تجربه کړي دي او یا تجربه کوی یې
- د ناظر نظر پدې هکله چې آیا تاسو د ملي امنیت یا د متحده ایالتونو د امنیت لپاره تهدید یاست
- ستاسو د کاري دندو څخه د ناظر تشریح. د لزوم په صورت کې، ستاسو ناظر باید ستاسو موقعیت چې څرنګه تاسو مستلزموي هم ذکر کړي:
  - که په افغانستان کې د امریکا د پوځ د پرسونل لپاره د ژباړونکي یا ترجمان په توګه خدمت وکړئ، مخصوصاً که چیرې دا کار د قرارګاه څخه د باندې مسافرت ته اړتیا لري. یا

## 3. DS- 157 د غیر مهاجرتي ویزې د تکمیلي غوښتنې فورم

دا فورم په آنلاین توګه په https://eforms.state.gov/Forms/ds157.pdf کې د لاسرسی وړ دی. تاسو باید ټول فورم تکمیل کړئ. مهمه ده چې د DS- 157 فورم د تکمیل په وخت کې ددې پاڼې لاندینې دستورالعملونه وڅارئ.

## 4. د افغاني ملت بېلګه

تاسو باید د خپلې تذکرې یوه سکن شوې کاپي چې انګلیسي ژبې ته ژباړل شوې وي راولیږئ. په نوبت سره، ستاسو د افغاني پاسپورټ د بیوګرافی د مالوماتو پاڼه د افغاني ملت د منلو وړ مدرک دی.

## 5. د تهدیداتو بیانیه چې د خپل استخدام په نتیجه کې ترلاسه شوې وي

تاسو باید د تهدیدونو په اړه یوه لنډه بیانیه چې تاسو په افغانستان کې د متحده ایالتونو د دولت یا د هغوی له لوري یا د ISAF یا یو ځایناستي مأموریت په واسطه د خپل استخدام په نتیجه کې مخامخ کیږئ یا مخامخ شوي یاست، ولیکی، لاسلیک یې کی او د هغه نېټه ثبت کړئ. که څه هم ممکن دی وړاندې شوي اظهارات د نورو خواوو له لوري هم موجود وي، تاسو باید خپله بیانیه وړاندې کړئ. هیله کوو تر کومه ځایه چې ممکن دی ډېر جزئیات وړاندې کړئ.

د 133-66 عمومي قانون 1219 ماده وړاندوینه کوي چې یوه لوړه[7] شوې معتبره بیانیه چې د یوه خطرناکه هیواد شرایط انځور کوي د متحده ایالتونو د حکومت له لوري د همدې ډول هیوادونو د رسمي شواهد سره، باید د یوه عامل په عنوان ددې په تعیین کې چې آیا یوه غوښتونکی ته جدي متداوم تهدید چې د امریکا د حکومت له لوري د استخدام په نتیجه کې هغه تجربه کړیدي یا یې تجربه کوي، په نظر کې ونیول شوي.

---

[6] یعني د کام د تأیید لپاره تاسو هغه د اثبات دلایل

[7] قسم، سوګند، قول، ژمنه، وعده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 6. د کارکوونکي نښانونه

د موجودیت په صورت کې، د هویت د هر نښان سکن شوې یو کاپي چې د متحده ایالتونو یا د مغوی په استازیتوب، یا ISAF یا یوه ځایناستي مأموریت له لوري د استخدام په ټولو دورو کې تاسو درلودل، راولیږئ.

### راتلوونکي پړاوونه او پوښتنې

کله چې تاسو د COM د تأیید بشپړه د غوښتنې کڅوړه د برښنالیک له لوري AfghanSIVApplication@state.gov ته وسپارله، هیله کوو د ځواب لپاره حد اکثر تر ۸ اونیو پورې وخت راکړئ چې د ویزې ملي مرکز NVC ستاسو کڅوړه ترلاسه کړیده. کله چې NVC ستاسو د COM د تأیید د غوښتنې کڅوړه بررسي کوي، نو تاسو ته خبر درکوو که څه ناقص یا ناتکمیله وي.

که چیرې تاسو د افغان SIV پروګرام اړوند نوري پوښتنې لرئ، هیله کوو چې لومړی تاسو په آنلاین توګه په https://travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/special-immg-visa-afghans-employed- us-gov.html کې مالومات وګورئ. که چیرې مو د خپلو پوښتنو ځواب پیدا نه کړ، هیله کوو چې AfghanSIVApplication@state.gov ته برښنالیک ولیږئ.

### هغه مالومات چې ستاسو د غوښتنلیک په جریان کې د ځنډ څخه مخنیوی کوي

ډاډ ترلاسه کړئ چې د اسنادو سکن شوي کاپي چې تاسو یې وړاندې کوئ واضح دي. خپل اسناد مخکې د سکن څخه، په تور رنګ سره، د سپین کاغذ پر مخ چاپ کړئ.

په ټولو اسنادو او ایمیلي مکاتباتو کې د خپل نوم د ورته املا[8] څخه استفاده وکړئ. املا باید ستاسو د نوم سره چې په پاسپورټ او تذکره کې لیکل شوي مطابقت ولري. وروسته د خپل صحیح نوم څخه تاسو باید مستعار نوم وړاندې کړئ.

سپارښتلیکونه د SIV د غوښتنې په پروسه کې ډېر مهم دي. لطفاً د خپل ناظر څخه وغواړئ چې ستاسو د کار په توصیف کې تر ممکن حده دقیق او کامل واوسي او یو لیک ولیکي چې ستاسو د لاسته راوړنو او مسؤلیتونو ته مخصوص وي.

### د DS-157 فورم د تکمیلولو لارښوونې

DS-157 فورم د غیر مهاجرتي ویزو د غوښتنې تکمیلي فورم دی. دا فورم په آنلاین ډول په https://eforms.state.gov/Forms/ds157.pdf کې د لاسرسي وړ دی. لطفاً د DS-157 فورم د تکمیل په وخت کې لاندې لارښوونې په دقت سره ولولئ او وڅارئ.

که چیرې فورم ستاسو د سوال لپاره کافي فضاء نشي تیارولای، کولی شي چې د کاغذ د اضافي ورقو څخه استفاده وکړئ. هیڅ یوه خانه خالي مه پریږدئ. ټول سوالونه باید مناسب ځوابونه ولري، بې غیر لدې څخه به ستاسو غوښتنه وځنډیږي.

#### لاندې د هر نمبر سوال اړوند لارښوونې دي

1. خپل د کورنۍ نوم یا تخلص چې څرنګه په تذکره یا پاسپورټ کې راغلی دی داخل کړئ. هغه نومونه چې د d/o یا s/o څخه وروسته څرګندیږي مه داخلوئ. که چیرې یو نوم لرئ لطفاً هغه دلته داخل کړئ.

---

[8] لیکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: محمد فهیم نوري

2. خپل اصلي نوم چې څرنګه په تذکره یا پاسپورټ کې مالومیږي داخل کړئ (که نور وي). که چیرې ستاسو په پاسپورټ کې یو نوم وي، FNU (ناڅرګند) نوم دلته داخل کړئ.

3. خپل بشپړ نوم دقیقاً همغسې چې په تذکره یا پاسپورټ کې لیدل کیږي په دري ژبه ولیکی.

4. خپل د قوم یا قبیلې نوم داخل کړئ، که قوم یا قبیله نلرئ نو "هیڅ یو " ولیکی.

5. هر نوم/ مستعار نوم چې تري استفاده مو کړیده داخل کړئ.

6. خپل د زیږیدو نېټه چې څنګه په تذکره یا پاسپورټ کې ده داخل کړئ.

7. خپل د زیږیدو ځای چې څنګه په تذکره یا پاسپورټ کې دی داخل کړئ.

8. خپل د پاسپورټ شمېره دننه کړئ (که موجود وي)

9. د تذکرې ټول نمبرونه چې مخکې مو تري استفاده کړې دننه کړئ.

10. اړونده اختصاصي بکس ولټوئ.

11. خپل د میرمنې بشپړ نوم دننه کړئ. که مجرد یې نو "N/A " ولیکئ.

12. خپل د پلار بشپړ نوم چې څنګه په تذکره یا پاسپورټ کې دی دننه کړئ.

13. خپل د مور بشپړ نوم چې څنګه په تذکره یا پاسپورټ کې دی دننه کړئ.

14. خپل برېښنالیک او د تلفن شمېره دننه کړئ.

15. خپل د ماشومان نوم او د پیدایښت نېټه چې تر ۲۱ کلنو ښکته وي هغه رقم چې د هغوی په تذکرې کې لیکل شوي دي لیست کړئ. که چیرې د ۲۱ کالو څخه ښکته زامن نه لرئ نو "N/A " ولیکئ.

16. ټول هغه هېوادونه چې تاسو په تیرو ۱۰ کالو یا د لیدنې په کال کې د هغوی څخه لیدنه کړېده( د بیلګې په توګه چین ۲۰۰۴، ایتالیا ۲۰۰۷) لیست کړئ او که د افغانستان څخه مو هیڅ کله بهر سفر نه وي کړئ "هیڅ یو" ولیکئ.

17. ټول هغه هیوادونه چې تاسو ته یې پاسپورټ صادر کړئ وي لیست کړئ، د هغې له جملې څخه خپل اوسنی پاسپورټ. که چیرې تاسو ته هیڅکله پاسپورټ نه وي صادر شوی او هیڅ پاسپورټ نلرئ "هیڅ یو" ولیکئ.

18. مناسبه اړونده جعبه وټاکئ تر څو متوجه شئ چې آیا پاسپورټ مو ورک کړئ یا غلا شوی.

19. د خپلو وروستیو پنځو کارفرمایانو او د هغې د جملې څخه د وروستي کارفرما د مالوماتو غوښتنه لیست کړئ. که د خپلې اوسنی دندې څخه مخکې یوازې یو کارفرما یا کارفرما مو نه درلودی، باید دا په باکس کې توضیح کړئ. خپل مخکني کارفرمایان بې لدې چې د متحده ایالتونو سره یې رابطه په نظر کې ونیول شي لیست کړئ. لطفاً خپله دنده توضیح کړئ که چیرې آزاد شغل لرئ. لطفاً خپل د کارفرما نوم، د کار محل او خپل د دندې عنوان په خانګړې توګه بیان کړئ. که چیرې د خپل مخکني ناظر برېښنالیک نه لرئ"N/A " دننه کړئ.

20. اړونده اختصاصي بکس وټاکئ تر څو مشخص شي چې آیا مخکې مو د مأموریت د رئیس غوښتنه ورکړېده یا نه؟ پدې صورت کې د خپلو مخکنیو برنامو اړوند د دوسیو نمبرونه دننه کړئ.

**دا ژباړه ماهرانه نده بلکې د انګلیسي ژبې څخه کټ مټ ژباړل شویده او که په کوم ځای کې نیمګړتیا ولرې ببښنه غواړو!!!**

ژباړه: محمد فهیم وردګ

۲۸/۷/۲۰۲۱ - ٦/٥/۱۴۰۰

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**